Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0786384859 | E-mail: info@acci.org.af | Website: www.acci.org.af

## مطبوعاتی خبرپاڼه

# وروستۍ اختطافونه د خصوصي سکتور اندیښنه زیاته کړې ده

نیته: چهارشنبه د ۱۳۹۵ کال د وری د میاشتې ۱۷ مه، د سهار ۱۰ بجې
پته: د سوداګرۍ او صنایعو خونه، حضوري چمن، کابل ننداري ترڅنګ

د سوداګرو د اختطاف موضوع، افغان سوداګر، دهغوي کورنۍ او همدارنګه د افغانستان د خلکو اندیښنې پاروليې دی، خو د روانو کلونو په ترڅ کې دا موضوع د افغان سوداګرو پر وړاندې په یوه لويه ننګونه بدله شوې دی.

لکه څنګه چې، د روانو میاشتو په ترڅ کې ۶۰ کسه سوداګر او یا د هغوی د کورنیو غړي اختطاف شوي، وژل شوی او یاهم پانګه یې غلا شوې دی.

د بعضو راپورونه له مخې دا موارد زیات ښودل شوې دی، لیکن د یو تعداد سوداګرو کورنۍ، چې د قاچاقچیانو د ګواښ په ترڅ کې او د خپل کورنۍ د غړو د ژوند د خوندي کولو له پاره دې ته اړ کیږي چې په پټ ډول ، خپله قاچاقچیانو سره معامله وکړي.

د درملو د واردولو شرکتونه د دې موضوع څخه ترټولو ډیر زیانمنه برخه جوړوي، چې په روان کال کې د اختطاف د څلورو پیښو سره مخامخ شوي دی، وروستۍ پیښه یې، د روح الله نصرت شرکت د خاوند زوی، څوارلس کلن ماشوم، نهضت الله، د اختطاف موضوع وه، چې د کابل په یوولسمه حوزه کې پیښه شوه.

سره لدې چې، د دې پیښې څخه ۱۸ ورځې اوښتې دی، لیکن د دې ماشوم د برخلیک څخه هیڅ معلومات ندی وړاندې شوي، او امنیتي ځواکونه په دې هکله هیڅ ډول اقدام ندې کړې.

دافغانستان د درملو او طبی سامان آلاتو د شرکتونو اتحادیې په یاد موضوع کې امنیتي ځواکونو په ناکامي تورنوي او له دوي څخه په نوموړې برخه کې د جدې پاملرنې غوښتونکي دي. که چیرې حکومت په یاده برخه کې تر راتلونکي یوه اونۍ پورې جدې پریکړه او کړنه ترسره نکړي، نو دوي به اړ شي چې د اساسي قانون مطابق دنورو لارو څخه د حل لارې غوښتونکې شي.

د افغانستان د سوداګرۍ اوصنایعو خونه د خصوصي سکتور په استازیتوب د اختطافونو له دوام څخه د ژورو اندیښنو په ښکاره کولو سره، له افغان امنیتي ځواکونو څخه د دې موضوع د مخنیوی لپاره د جدې ګامونو د پورته کولو غوښتونکی دی.

مونږ باور لروکه حکومت د قاچاقی شبکو په له منځه وړلو کې جدی ګامونه پورته نکړې، له یوې خوا به په امنیتي ځواکونو باندې د خلکو د بې اعتمادې لامل شي او له بلې خوا به د هیواد څخه د شتمنیو د فرار لاره برابره کړي.